مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۲۱/۱۲/۱۶

# پولي سیاستونو کې

## د وروسته پاتې هېوادونو د مرکزي بانکونو رول

## (ځلورمه برخه)

په عمومی توګه د مرکزي بانک رول او دندي د پيسو نشر، کنترول او د اسعارو اداره کول، دبيو ثبات، دتجارتي بانکونوڅارنه، د پولي مؤسساتو(وسيطونو) د طرزالعمل لپاره قانونګذاري او پولي سياست عملي کول دي. په وروسته پاتي هېوادونو کي هم مرکزي بانک همدا وظايف لري، اما په پرمختللو هيوادو کي د مرکزی بانک او نوروبانکونودندي او خدمات زيات اوځو اړخيز دي، چي دهيواد دملی منافعو ساتنه یی لومړنی ماموريت( mission) او د ګټی اعظمی کول یی مرام( vision) دی. البته دغو هيوادو کی د پيسو د ارزش د ساتلو، د بيو استقرار ته توجه، بيلانس شيټ او داسي نور حل شوي او ساده مسايل دي، بياهم دوی ته مهم دي، خو دافغانستان په شان وروسته پاتي هيواد ته دبيو استقرار لومړيتوب لري. له بده مرغه په هيواد کي يو سرسام او په تراټ روان انفلاسيون او د ډالر په وړاندي دافغانيو د تبادلې ٪۱۶۱،۱سقوط دتشويش وړ خبره ګرځيدلی ده.

% I=124/77×100= 161, 01

پورته محاسبه کی ( I ) د يو بهرنی سعر(آمريکايی ډالر) په وړاندي دافغانيو د سقوط شاخص (index)، د۷۷عدد دځلورو مياشتو مخکی دتبادلي ارزش او ۱۲۴دنن ورځي دتبادلي نرخ دی. په منځنی ډول د لومړنی اړتيا وړ اجناسو نرخونه هم د ٪ ۱۶۰ -٪ ۱۷۹ پوري لوړ شول، داځکه دغو اجناسو ته تقاضا غير حساسه ده.
فعلي اداري ګواکي د ډالرو د قاچاق دمخينوی په خاطر د پولی مارکيټ (دشهزاده سرای صرافی) ترلو ته ملا وتړله، حال دا چي تر دي مهم اقدام چي هغه د جعلی افغانی بانکنوټ نشر او هيواد ته د ډالرو او ډېرو سيمو کي د خپريدو مخنيوی کي هيڅ اقدام نه دی شوی، همدا رنګه دا چي کلاره ورو ورو بيرته چلند ته لويږی، په دی کي هم اوسنی اداره بی خبره او ناتوانه ده. دا دواړه جريانات نه يواځي دا چي فعلی اقتصادی وضعيت نور هم خرابوی، بلکي د افغانستان حاکميت ته ضربه ده. ډېره ضرور ده چي د دی کار اجازه نه وای ورکړل شوی، دا ځکه چي يو خو د انفلاسيون لامل ګرځي، له بلي خوا افغانی بانکنوټ بی اعتبار ه کوی او دريم دا چي خپروونکی جعلکاران له دی څخه لويه نامشروع ګټه ترلاسه کوي. متاسفانه دی ډول تدابيرو ته دافغانستان اوسنی اداره ناتوانه ده . اصلی قدرت د خلکو د رضايت حاصلول، کفايت او اقتصاد کی دلاسوهنو مخنوی دی.
بالعموم دپرمختيايی هيواد ددولت له خوا په مؤلدو تصديو کي دولتي سرمايګذاري او عامه خدماتو کي مصارف تعينول هم د قيمتونو په ثبات، دصادراتو پياوړی کولو، د ملی پيسو د پيرودلو د قدرت د پياوړتيا او د سعر سره د سيالی په برخه کی مهم دی. لکه څرنګه چي پرمختللو هيوادونو کي د يو منظم اقتصادي سيستم، کارپيژندونکي او مامورين دنده ترسره کوي، نو هلته د مرکزي بانک د وظايفو سرته رسول دا ممکنه کوي چي بانکي امورات ګټور او ښه ترسره شي، اما وروسته پاتي هيوادونو کي يوه بله وضع حاکمه ده هغه دا چي ممکن د دغو هيوادو په اقتصاد کي محدود انواع صادرات او د نامحدود انواع واردات موجود وی او ممکن چي د صادراتو او وارداتو نسبتي قيمتونه( د هغوی د تجارت نسبت) د دې هيوادو له کنترول څخه بهر وي، د هغوی مالي سيستم شايد يو ابتدايي سيستم وي. که په دې ډول حالاتو کی چي همدا اوس دافغانستان مرکزی بانک يو پسيف او بی توپيره حالت کي دی، له بهر څخه که څومره ډالر راشی، ګټه يی زموږاقتصاد او د خلکو ژوند ته ډيره کمه رسيږی، بلکي ډيره ګټه يی ګاونډيو ته رسيږی، چي د دی دليل دتجارت اوسنی وضعيت دی. همدا اوس بهر ته د ډالر په قاچاق، د جعلی پيسو په نشر اود افغانی په لويدو سره د ګاونډيو اقتصاد ډيره ګټه وکړه، د ا ځکه چي له افغانستان څخه راز راز اجناس ډير ارزانه ورځي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

زمونږ د کار او تولید قوه فلج شوه او د هغوی صادرات ترپخوا زیات اوکارخانی یې یوځل بیا فعاله شوی. په دې ډول هیوادو کی یوڅو مشخصات داسې دي:
الف – اکثره تجارتي بانکونه چې د داخلي منابعو صادراتو تمویل ترسره کوي په خارجي مارکیټ کې وي.
ب – په لویه کچه او فاسد پولي سیستم سره دلالان فعال دی چې په ټیټه کچه پوهي او معلوماتو سره مالی سکتور کنترولوي، دوی ته ملی منافع مطرح ندی .
ج –مرکزي بانک فقط د پولي وظایفو په سرته رسولو مصروف دی لکه د پیسو نشر او د قانونی زیرمو نظارت، اما د پانګی د کټی اوچتولو او د مشتریانو د زیاتولو او رضایت قدرت کم لری،
د – دټیټ ظرفیت لرونکی او بې تجربه مامورین چې داخلي او بین المللي تمویلی کار او دمشتریانو او نورو بانکونو سره د معاملاتو د طرز سره بلدیت او اشنایي نلري.
هـ – حکومت د پرمختللو هیوادو پر خلاف؛ مرکزي بانک او د هغه فعالیتونه کنترولوی او دحکومت په نزد سیاست کول، د اقتصادي کفایت په پرتله زیات اهمیت لري.
نو پرمختیایی هیوادو کې د پورتنیو شرایطو لاندې مهمه خبره دا ده چې مرکزي بانک باید د خارجي او او داخلي مشتریانو اعتماد د پولي سیستم مورد کې جلب کړي. دغو حکومتونو ته لازمه ده چې کوچنیو تشبثیونو کې خصوصي سرمایګذاري او متشبثین تشویق، حمایه او رهنمایي کړي، مګر عامه اجتماعي خدمات او زیربنایي تاسیسات، طبیعي شتمني او لوي سکتورونه خپل کنترول لاندې وساتي او هغو کې دولتي سرمایګذاري صورت ونیسي.
پولي سیستم د مجموعي اقتصادي سیستم اساسي جز دی نو د وروسته پاتې هېوادونو لپاره کلیدي حیثیت لري.
د دغو ستونزو د حل لپاره ځانګړي سیاستونه غوره کیدای شي هغه چې هر یو مونږ په مخکي برخه کې تشریح کړل مګر مهمه مسله دا ده چې وروسته پاتې هېوادونه باید عنعنوي او ابتدایي طرز او اداره ترک او پر عوض یې معاصره او پرمختللي اداره رواج کړي له هغي جملې د پولي مسایلو په هکله هم باید بدلون ته توجه وشي چې دا کار د لایقو، کارفهمو، باتجربه، مسلکي او تحصیل یافته کدرونو په واسطه ترسره کیدای شي.
لکه څرنګه چې واضح شوه د اقتصادي پرابلمونو او بحران د مخنیوي لپاره د هر هېواد ملي بانکونه کولای شي مداخله وکړي او ځیني لازم تدابیر ونیسي. بانک له خپل صلاحیت څخه استفاده کوي او پولي سیاست داسې عیاروي چې د پیسو اعتبار صدمه ونه ویني، بلکې داخلي او بهرني مارکیټ کې یې د پیریدلو توان ترمعین حد پورې ثابت وي.
د پولي سیاست د تطبیق لپاره د پیسو نشرولو امتیاز، د قانونی او احتیاطی ذخایرو ځارنه، د پشتوانې ساتل، د بهرني تجارت په برخه کې ځیني محدودیتونه وضع کول، حمایوی تعرفي وضع کول، تشویقونه او نور تدابیر هغه وسایل دی چې دلته پکار تلای شي او د وسیلو په توګه انتخابیدای شي. باید وویل شي چې د ځینو پروژو پرمخ بیول، د ملي انکشاف د پاره د پلانونو طرح کول او د هغو مؤفقانه تطبیق د هېوادونو د ملي اقتصاد وضع بهتر کولای شي.
مونږ دلته د دې برخې لپاره ځنې پیشنهادونه چې طرح کولای شو ځیني یې په لاندې توګه دي:
1. سیاسي او اجتماعي ثبات او دولت استقرار په اقتصادي حالت او پولي سیاستونو باندې غوره او تعینوونکی اغیز لري، نو پرمرمختیایي هېوادونه باید د موجوده اجتماعي او سیاسي هرج مرج مخه ونیسي او حکومتونه یې د مثبتو تګلارو په غوره کولو د خپلو خلکو او د معاصر وخت اوزمان د تقاضا سره سم داسې لارې چارې تر لاس لاندې ونیسي چې په واقعیت کې د اجتماعي رفا او د دولت ثبات او د اقتصادي حالت د بهتر کېدو سبب شي.
2. باید په دوهم قدم کې د انفلاسیون مخه ونیول شي یعني د انفلاسیون ضد تدابیر ونیول شي(ملی تولید اوچتول، د جعلی پیسو مخنیوی، د نورو بهرنیو پیسو د دوران مخنیوی، دملی موسساتو پیاوړی ساتل اود داخلی تولیداتوصادراتو پیاوړی کول).
3. تر هغه چې پرمختیایي هېوادو کې د تولېد سکتور اوچت نه شي او مادي تولېد د نشرشویو پیسو د حجم سره معادل نشي او مؤلده سکتوررونه ته خاصه توجه ونشي، دوی به ابداً اقتصادي پرځان ویساوالی ته ونه رسیږی او بیوزلی څخه به ونه ژغورل شي.
4. د ثابتو قوانینو او عامه تدبیرونو وضع کول او هرج مرج څخه مخنیوی هغه اقدام دی چې باید دې هېوادو کې پام ورته وساتل شي.
5. باید اقتصادي مؤسساتو، د بانکداری سیستم او د پلانګذاری ارګانونو کې او خلاصه دا چې ټولو مسلکي رشتو کې د لایقو، کارفهمه، باتجربه او پوهو اشخاصو غوره کولو ته اول قدم کې توجه وشي.
6. د وروسته پاتې هېوادونو لوی مشکل د اجتماعي او سیاسي ستونزو له امله د مغزونو د فرار ادامه ده چې باید مخه یې ونېول شي.
7. د پولي مؤسساتو انکشاف او په معاصرو وسایلو لکه کمپیوټر او اتومات وسایلو مجهز کول او د پسیف حالت رفع کول هم یو اساسي اقدام شمیرل کېدی شي. ملی منافع مقدم شمیرل یې کلیدی قدم دی چې دا اقدام یوه بادرایته او پیاوړی اداره او اراده غواړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ